# د معلوماتو د بشپړې پيژندنې ورکشاپ

وړاندې کونکي  ملېسا بووي او حميده حميد

---

**د معلوماتو بشپړه پيژندنه څه ته وايي؟**

د معلوماتو بشپړه پيژندنه  يولړ وړتياوې دي چې دمعلوماتو د اړتيا پر وخت  هر چا مجبوروي چې  نومړې معلومات ښه وپيژني او ددې قابليت ولري چې د اړتيا وړ معلومات ومومي، ارزونه وکړي او د هغې څخه په اغيزمنه توګه کار واخلي.

**د څيړنې دپروسې مرحلې**

1- **د اړتياوړ دمعلوماتو پيژندنه**

2- **د معلوماتی زيرمې پلتنه ترڅو چې مناسب او داړتيا وړ معلومات لاس ته راشي.**

الف: د مناسبې زيرمې برابرول

ب: د مناسبې زيرمې ټاکنه

3- **د معلوماتو دقيق ارزونه**

الف: د معلوماتو د صحيتوب د تعيينولو لپاره

ب: د معلوماتو د پلوی کولو د کچې د تعيينولو لپاره

ج: د معلوماتو د عمومی منښت (رواج يا نويتوب) د تعيينولو لپاره

4- **د موندل شويو معلوماتو او سوابقو ترکيبول.**

5- **اړيکې نيول او د زيرمې منبعو يادونه**

Ketabton.com

## لومړی مرحله: د اړتياوړ معلوماتو پيژندنه

کله چې پريکړه مو وکړه چې څه ډول  معلومات مو په کارېږي بيا وروسته دځپل اړتياوړ معلومات په يوه څيړنيزه پوښتنه واړوئ.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مثال**

د اړتیاوړ معلومات: زه غواړم چې د انتقادي مفکورې د مهارتونو د ښوونې لپاره مختلف پیداګوژیک تګلاري زده کړم.

څېړنیزه پوښتنه: د انتقادي مفکورې د مهارتونو د ښوونې لپاره مختلف پیداګوژیک تګلاري کومې دي؟

---

د امریکایانو د کتابتونو اتحادیې. ۱۹۸۹. دمعلوماتو د بشپړې پیژندنې لپاره د ولسمشر هیئتان، وروستی رپوټ.

شیکاګو، د امریکې متحده ایالتونه: د امریکایانو د کتابتونو اتحادیې. دویم ځل لپاره د ۲۰۰۹ زیدیز کال د اکتوبر میاشتې په ۲۸ مې نیټې کښې دلاندیني ویب پاڼې څخه اخیستل شوې ده.

http://www.ala.org/ala/mgrps/divs/acrl/standards/informationliteracycompetency.cfm#f1

\

## دویمه مرحله: د معلوماتی زیرمې پلتنه تر څو چې مناسب او د اړتیا وړ معلومات لاس ته راشي.


لومړی، له ځان څخه دا پوښتنې وګړئ لکه: مخ تر دې نه چې د موضوع پلتنه پیل کړم څومره د نوموړې موضوع په هکله پوهیږم؟

نوموړې موضوع د کوم ډول مقرراتو یا اصولو په چوکات کښې ځایږي؟ آیا په دې موضوع کښې کومې ځانګړې برخې شته چې زه دومره ورته دلچسپي ښییم؟

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الف)**هغه کلمې او لغتونه  وتاکئ چې د اړتیا وړ دمعلوماتو په پیداکولو کښې له تاسو سره مرسته کوي. له ځان سره یو پلان طرحه کړئ ترڅو د اصلي کلمې، مترادفې کلمې او اړوندې مفکورې او نظرونو په موندلو کښې له تاسو سره مرسته وکړي.




**ب)**وروسته بیا وټاکئ چې کومې زیرمې د معلوماتو لپاره ښه منابع ګنل کیږي.

د ورځپاڼې مقالې، علمي ژورنالونه، کتابونه او انترنتی شبکې ټول دمعلوماتو بیلا بیل ډولونه  وړاندي کوي

| | |
|---|---|
| **ورځپاڼې** | • د حالاتو ، پیښې، خلکو او سیمې په هکله تازه او متداول معلومات خپروي چې په هماغه وخت کښې چاپ شوي دي.<br>• تاسو ته ددې زمینې برابروي چې  د یوې پیښې او یا کیسې پرمختګ په هغه ډول چې را مینځ ته شوې  تعقیب کړئ.<br>• ورځپاڼې کولای شي د سرلیکونو  لپاره یوه ښه زیرمه وي چې له تاسو سره مرسته کوي ترڅو د یوې موضوع د تولو اړخونو په هکله ښه فکر وکړئ.<br>• معمولاً په ورځپاڼو کښې یوه ځانګری سیمه ئیز او جغرافیایی برابروالې شته. |

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| **مجلې** | • معمولاً د يوې موضوع په هکله تازه او مروج معلومات خپروي چې په هماغه وخت کښې چاپ شوي دي.<br>• يوه هر اړخيزه مفکوره وړاندي کوي.<br>• مجلې په عمومي ډول د ټولو (عامو) لوستونکو لپاره خپريږي، په مجله کښې ډير مغلق لغتونه او اصطلاحات نه کاريږي.<br>• معمولاً په مجله کښې انځورونه، چارتونه، نقشې او نور ګرافيکونه د خپره شويو موضوګانو په هکله موجود دي. |
| **ژورنالونه** | • ژورنالونه د متخصصانو په قلم د متخصصانو له پاره د يوې ځانګړې موضوع په هکله ليکل شوی دي، چې ښايی اختصاصی لغتونو او اصطلاحات پکښې کارول شوی وي.<br>• ژورنالونه مخ تر دې نه چې خپاره شي د تصحيح لپاره د کره کتنې د پروسې څخه تيريږي.<br>• نوې او سپيڅلې څيړنيزې موضوع ګانې خپروي.<br>• په ژورنالونه کښې ډير هڅه کيږي چې د نورو زيرمې څخه دمعلوماتو کره کتنه په ډير ځير او باريک بينی سره وشي.<br>• ژوړنالونه د يوې تحقيقی مقالې په پای کښې د زيرمو د پټې او څرګندونې يادونه کوي.<br>• معمولاً په کال کښې څو ځلي خپريږي چې تازه او سپيڅلې موضوع ګانې وړاندی کړي. |
| **کتابونه** | • ديوې موضوع په هکله يوه ژوره څرګندونه وړاندي کوي. که يو کتاب د مقالو څخه تاليف شوي وي نوموړی کتاب د موضوع په هکله راز راز نظرونه وړاندي کوي.<br>• کتابونه دير ژر له چلند څخه لويږي او مطلبونه يې زاړه کيږي او دا ستاسو د اړتيا وړ موضوع پوري اړه لري ځکه چې کتابونه تل د چاپولو له پروسې څخه په ډير ځند راوځي.<br>• کتابونه دخپلو موضوع ګانو لپاره يو فهرست لري چې ستاسو د ځانګړې موضوع د آسانه موندلو لپاره برابر شوې دئ که د نوموړي کتاب په فهرست کښې دا موضوع ګانې موجودې وي. |

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| **دانترنت شبکې** | • د هغې ویب پاڼې یو – آر – ال یا بریښنایی پته چې په **.gov** او یا **.edu** ختمیږي ډیری یې صحیح او مؤثق معلومات لري. په همدې توگه هغه سایتونه چې د یو هیواد د نوم په لنډیز(مخفف) ختم شوی وي.<br>خو هغه ویب سایتونه په ډیر غور سره وارزوئ چې په **.org** او یا **.com** ختمیږي.<br>• هغه ویب پاڼې چې د مسلکي موسسې لخوا خپریږي ډیری یې دخپلو رشتو په برخه کښې مقالې او رپوټونه خپروي او د معتبرې زیرمې څخه ویب لینکونه لري. په ځینو موسسو کښې د معلوماتو دکارولو له پاره تاسې باید د نومورې موسسې غړیتوب ولرئ.اما په نورو موسسو کښې د معلوماتو د لاس ته راوړلو لپاره د هر چا لپاره آسانتیاوي برابر شوي دي.<br>• گوگل اسکالر (د گوگل شبکې څیړونکې) یو پلټونکي ماشین دئ چې په ځانگړې توگه د ژورنالونو، علمي مقالې او علمی کتابونو پسې گرځي.<br>لومړی تاسې باید یوه ښه معتبره ویب پاڼه ومومئ ، وروسته بیا دخپل کتابتون له لارې نه د یوې مقالې غوښتنه وکړئ.<br>گوگل بوکس( دگوگل کتابونه) په ځانگړی توگه د هغه کتابونو پسې گرځي چې اصلي کلمې یې ستاسو لخوا تائپ شوي وي. |

**ج)** د اصلي لغتونو او د راټول شوې زیرمې په کارولو سره دخپل په زړه پوري موضوع باندي څیړنه وکړئ ترڅو څرگند شي چې څه ډول معلومات په کښې شته.ښایی دخپلو اړتیا وړ معلوماتو په هکله نوې مفکورې او اصلي لغتونه ومومئ.

هر ډول معلومات مو چې وموندل دهغو پر بنسټ باید خپل څیړنیزه پوښتنه بدل کړئ. د معلوماتو له پاره ډیرې ښې زیرمې دا دي:

- ویکپیډیا د یوې ځانگړې موضوع ، دمفکورې پیژندگلوي او د اصلي لغتونو یوه اغیزمنه لنډیز وړاندي کوي چې ښایی ستاسو د غوره شوې موضوع په اړوند وي.
- همدا شان انسایکلوپیدیا (دایرة المعارف) هم د مفکورې او اصلي لغتونو یوه اغیزمنه لنډیز وړاندي کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د)** دهغو معلوماتو پلتنې ته دوام ورگړئ چې ستاسو غوره شوې موضوع گانو په اړوند دي. که کافي معلومات مو ترلاسه کړ تاسې باید چې د اصلي کلمي او ټاکل شوې مفکورې له پاره خپله پلټنه په ډېر غور تر سره کړئ او خپل څېړنیزه پوښتنه په لند ډول وړاندي کړئ.

که تاسې دخپلې غوره شوې موضوع په هکله زیات معلومات پیدا و نه کړل تاسې باید د اصلي کلمې او مفکورې پوښتنه په جامع ډول وړاندي کړئ.

**د څېړنې د پروسې بیلگه**

| | |
|---|---|
| **الف) اصلي کلمې** | پیداگوژی، ښوونیز میتودونه ، انتقادی مفکورې، د زده کړې تگلارې ، ښوونه او روزنه، تاریخ |
| **ب) زیرمې** | ژورنالونه او علمی کتابونه ( د ښوونې او تاریخ په هکله) د یوې علمې نظریې د څېړنې له پاره چې د یوې قضیې د لوستلو او تحلیلی څېړنې پر بنسټ وي؛ مسلکي او ښوونیزې ویب پاڼې ـ د ښوونیزې میتودونو د کارولو زده کړه. |
| **ج) د سوابقو څېړنه** | د پیداگوژۍ او انتقادي مفکورې په هکله ډېر زیاتې څېړنې تر سره شوې دي خو ټول زما د اصولو او مقرراتو سره سمون نه لري. په همدې توگه د سوابقو څېړنه ما ته د مختلفو پیداگوژیکو میتودونو په هکله معلومات ورکړی دئ چې زه کولای شم دا معلومات اصلي کلمې په لست کښې ولیکم. |
| **د) دقیقه څېړنیزه پوښتنه** | د انتقادی مفکورې مهارتونو د ښوونې لپاره د پیداگوژیک میتودونو کوم ډولونه شته چې په منځنیو ښوونځو کښې کارول شوي دي؟ |
| **نوې اصلي کلمې** | پیداگوژی، ښوونیز میتودونه ، انتقادی مفکورې، د زده کړې تگلارې ، ښوونه او روزنه، تاریخ ، اساسي او اغیزمنه ښوونه، فعاله روزنه، په لوړه کچه فکرکول، منځنی ښوونځي |
| **د څېړنې استراتیژي** | اصلي کتابونه او ژورنالونه ومومئ او د هغوی د مطالبو فهرست ولولئ، اصلي کلمې په گوگل اسکالر کښې تائپ کړئ، مسلکي موسسې پیدا کړئ او د علمی او |

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تخصصی مقالې له پاره دنومړي موسسې ویب پاڼې ولولئ.

## دریمه مرحله: د موندل شویو معلوماتو ارزونه

د موندل شویو معلوماتو په برخه کښې چې ځنې کار اخلئ ډېر پام وکړئ. څرگنده کړئ چې; آیا نومړي معلومات نوې دي؟ آیا دا معلومات د کومې موسسې او یا شخص څخه پلوی کوي؟ آیا دا معلومات مؤثق دي؟ آیا لیکوال یو صحیح زیرمه گنل کیږي؟ آیا لیکوال د زیرمې څرگندونه کړې ده؟

- ➢ د زیاتو څرگندونو له پاره « دمعلوماتو ارزونې» کاپي شوې نسخه ولولئ په هغه مبحث کښې تاسې به زده کړئ چې څنگه د اړتیا وړ معلومات ارزونه وکړئ.

## څلورمه مرحلې: د موندل شویو معلوماتو او سوابقو ترکیبول.

د موندل شویو معلوماتو ترکیبول د موضوع گانو دښه پیژندنې او ستاسو موندل شوی معلوماتو د وړاندی کولوله پاره یوه مهمه مرحله ده. لاندیني پوښتنې له ځان څخه د زیرمې په هکله وپوښتئ:

- په زیرمه کښې اصلي تکې څه دي؟
- د هرې زیرمې بحثونه او نظرونه څه ډول یو له بل سره سمون او یا توپیر لري؟
- نومړې زیرمې ستاسو څیړنیزې پوښتنې ته څنگه ځواب ورکوي؟

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې  باید د هرې زیرمې په هکله د یوې معما په ډول وګورئ. ددې معما د حل کولو له پاره تاسې باید د زیرمې دموندل شویو معلوماتو په مرسته دا معما په ډېره منطقي او دقیق ډول حل کړئ.

## پنځمه مرحلې:اړیکې نیول او د کارول شوې زیرمې/منابع یادونه

که تاسې غواړئ چې خپله څېړنه د یوې پریزنتیشن او یا مقالې له لارې وړاندی کړئ، نو هڅه وکړئ چې د زیرمې په یادولو سره خپل تحقیق د څېړنې اخلاقي معیارونو سره برابر  کړئ.

څوبیلګې ددې له پاره چې څه وخت باید د زیرمې یادونه وکړو:

- که دخپلې زیرمې څخه یوه نظریه او یا مفکوره مو اخیستی وي.
- که د یوې زیرمې یو متن مو تشریح کړی وي.
- که د یوه کس له خبرو څخه په مستقیم ډول کار اخیستی وي.

 د یوې نظریې او یا مفکورې په کارولو سره تاسې نه یوازې دهغې مفکورې لیکوال ته مناسبه باور ورکوئ بلکې تاسې د بیلا بیلو باوري زیرمې څخه نوم اخلئ چې ستاسو څېړنه د هغو پر بنسټ جوړه شوې ده. پردې سر بیره لوستونکو ستاسو د اثر په هکله دډېرو معلوماتو غوښتونکي دي او دوی کولای شي چې اصلي زیرمې ته پخپله ولارشي.

په یادونې کښې باید چې د اصلي لیکوال نوم، د زیرمې دچاپېدو نیټه ، عنوان، مطبعه او د چاپیدو ځای شامل وي. که ستاسو منبع یو ژورنال دئ نو ستاسو یادونې بیاهم باید  د هغې موضوع په اړوند وې چې د ژورنال په مقالې کښې خپره شوې ده او په همدې ډول د مقالې د پاڼې نمبر باید یادونه وشي. لاندیني بیلګي وګورئ.

ډیر مقررات دځان له پاره د یادونې ځانګړې تګلارې او معیارونه لري. یو ددې مقرراتو څخه د یوې امریکایی ارواح پوهنې ډلې له خوا جوړه شوي ده. مونږ دلته ددې ډلې د یادونې یوه بیلګه وړاندي کوو.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ژورنال مقاله**

د ژورنال د مقالې عنوان

کورنی نوم

تاريخ

مارش، جي. (۲۰۰۷). نوې زده کړې او د لرغون ښوونې تګلارې: د کره کتنې اصول او تمرينونه د عامو ښوونو نړيواله ژورنال ۱۱(۳)، ۲٦۷-۲۸۱

دژورنال د چاپ شميره (توک)

د مقالې دپاڼې نمبر

د ژورنال عنوان

**کتاب**

دچاپ ځای

تاريخ

کورنی نوم

باتيس، ای. دبليو.(۲۰۰۵). تکنالوژی، د بريښنايي توکي زده کړه او له ليري لارې څخه زده کړه کول . نيورک: روتلج

مطبعه/ ناشر

د کتاب عنوان

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د یوکتاب اصلاح شوي فصل**

(د یو فصل لیکوال د کتاب لیکوال او ادیټور څخه توپیر لري)

د دوو لیکوالانو کورنی نومونه

تاریخ

دفصل عنوان

بیکر، اچ. او لوویتس، بي.(۲۰۰۳). د تکنالوژي د ارزونې له پاره بنسټیزه پروژه. په ( جي G) کښې.
هارټل و بی. میئن(هي- ډي- اس)، دښوونیزې تکنالوژی ارزونه.(۱۲۹-۱۴۸). نیورک، دښوونکو پوهنځی مطبعه

د دوو لیکوالانو کورني نومونه

دفصل عنوان

د فصل پاڼې

دچاپ ځای

مطبعه/ ناشر

**د یوې مقالې موندل په انترنت کښې**

لیکوال یا موسسه

تاریخ

د مقالې عنوان


یونسکو.(۲۰۰۹). د یونسکو نړیواله رپورټ: دبیلا بیلو فرهنګونو پراخول او د فرهنګونو په مینځ کښې خبري اتري

نوموړي مقاله له دې ویب پاڼې څخه را ټوله شوې ده:
//unesdoc.unesco.org/images/0018/001852/185202E.pdf

د ویب پاڼې پته

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




پورتنی بیلګې باید چې ستاسو دمقالې یا پریزینتشن په پای کښې یادونه وشي. کله چې تاسې له یوې مفکورې او یا خبره څخه په خپله مقالې کښې کار اخلئ بیا هم تاسې اړ یاست چې زیرمه د لیکوال نوم سره او د مفکورې د کارولو نیټه په خپل متن کښې یادونه وکړئ.

**د متن په مینځ کښې د زیرمې یادونه**

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې تاسې د زیرمې یادونه کوئ نو دا ډېره مهمه ده چې ځان متیقین کړئ چې خپل ټاکلي زیرمې په مقاله او یا پریزینټشن کښې یاد کړی دئ، که تاسې ددې زیرمې څخه یوه زیرمه کارولی ده ، او یا د نوموړي زیرمې دمتن څخه یوه مفکوره مو تفسیر کړې وي تاسې باید چې خپلو لوستونکو ته په ټاکلي وخت خبرورکړئ. فکر وکړئ چې د زیرمې یادونه په یوه متن کښې (لکه د ډوډۍ توټې) تیت وپرک شوي وي دا خپله د زیرمې د لستونکو له پاره یو لارښود دئ چې لوستونکي پخپله هغه ځای ته لارښونه کوي چې دوی کولای شي د زیرمې بشپړفهرست تر لاسه کړي او دوی به پخپله اصلي زیرمې ته به لاره ومومي.

**بیلګه: د متن په مینځ کښې د زیرمې یادونه**

**نیغه وینا (مستقیم نقل):**

**د ښوونې او روزنې د نړیوال کولو دود له پاره د معلوماتی او اړیکه نیولو تکنالوژي (ICT) ډېره مناسبه لاره ده. ددې موضوع د ادبي څیړنې څخه وروسته لي بهرون (په ۲۰۰۹زیږیدیز کال کښې) داسې ویلی دئ:« چې ډېر څیړنې د ګلوبالیزیشن (د تکنالوژی نړیوال کول) پر مسئلې او ښوونې او روزنې په هکله شوي دي او یو مهم ټکی یی را مینځ ته کړی چې ICT یو ستراو بی ساری اغیز د دودونو دیوځای کولو، د بیلابیلو دودونو زده کولو، ښوونه او د درسی کاریکولم د انکشاف په برخه کښې لري» (۱۱پاڼه) لي بهرون وړاندیز کړئ چې دا اغیزمن متن د استادانو د لارښوونې له پاره موجود دئ ترڅو دوی ته وښيي چې څنګه د فرهنګی ټوپیرونو د زده کړې له پاره ICT د ښوونیز سیستم سره یوځای کړې .**

**یا**

**د ښوونې او روزنې د نړیوال کولو دود له پاره د معلوماتی او اړیکه نیولو تکنالوژي (ICT) ډېره مناسبه لاره ده. « ډېر څیړنې د ګلوبالیزیشن (د تکنالوژی نړیوال کول) پر مسئلې او ښوونې او روزنې په هکله شوي دي او یو مهم ټکی یی را مینځ ته کړی چې ICT یو ستراو بی ساری اغیز د دودونو دیوځای کولو، د بیلابیلو دودونو زده کولو، ښوونه او د درسی کاریکولم د انکشاف په برخه کښې لري» (۱۱پاڼه، لي بهرون . کال ۲۰۰۹) لي بهرون وړاندیز کړئ چې دا اغیزمن متن د استادانو د لارښوونې له پاره موجود دئ ترڅو دوی ته وښيي چې څنګه د فرهنګی ټوپیرونو د زده کړې له پاره ICT د ښوونیز سیستم سره یوځای کړې .**

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تفسیر:**
**د لی بهرون د مفکورې سره سم (په۲۰۰۹ زیږیدیز کال کښې) دلته یو اغیزمن متن ددې عقیدې د پیاوړې کولو لپاره موجود دي چې ICT دبیلا بیلو فرهنگونو، زده کړه کول او درسی کاریکولم د پراختیا په برخو کښې کارول کیدای شې.**
**یا**
**دلته یو اغیزمن متن ددې عقیدې د پیاوړي کولو لپاره موجود دئ چې ICT دبیلا بیلو فرهنگونو، زده کړه کول او درسی کاریکولم د پراختیا په برخه کښې کارول کیدای شې (لی بهرون ، په۲۰۰۹ زیږیدیز کال کښې)**

---

**د زیرمې لستونه:**
**دمقالې په پای کښې دا موضوع ګانې زما دزیرمې په لست کښې یادونه شوي او شامل دي :**
**لی بهرون (۲۰۰۹). څیړنیزه رپوټ د GeSCI له پاره، د ICT وروستۍ بیا کتنه د ښوونې او روزنې په برخه کښې**
**نوموړي خبره له دې ویب پاڼې څخه راټول شوې ده:** *www.gesci.org/assets/files/meta-research-part2.pdf*

د نیغې وینا په مثالونو کښې څنګه چې تاسې وینئ د بل چا د نیغو ویناوو په ډیرولو سره، نوموړې موضوع مې معرفي کړله، د لیکوال نوم او د اثر د چاپیدو نیټه مې یادونه کړې، د هغې نیغه وینا مې ښودلې او د نوموړې وینا دپاڼې نمبر مي هم یادونه کړې ده. که کوم څوک دا متن ولولي هغه کولای شي چې وروسته د زیرمې لست ته ولاړشې تر څو د زیرمې ټولو مطلبونو تر پوښښ لاندی راوړي او د هغې نه وروسته بیا پخپله کولای شي چې زیرمه رامینځ ته کړي.

د تفسیر په بیلګه کښې ما هماغه وینا څخه کار اخیستی دئ خو د لیکوال مفکوره مې د خپلو کلمو او جملو سره وړاندي کړی چې دا مفکوره لا هم د نوموړی لیکوال دئ، ما کوښښ کړئ چې په پراخه ډول د زیرمې څرګندونې د مفکورې نه وړاندي او وروسته راوړم.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ادبي غلا( پلېجريزم)

د ايالتونو د اداري له پاره د ليکوالي خپرونې هيئت« ادبي غلا هغه وخت رامينځ ته کيږي کله چې يو ليکوال له اجازې نه پرته قصداً د يوې وينا، مفکورې او نورو بکر معلوماتو (چې په عمومي ډول نه وي پيژندل شوی) د يوې زيرمې موضوع ګانې څخه کار واخلي»٢.

تاسې کولای شئ د زيرمې د څرګندونو په يادولو سره ځان له ادبي غلا له خطر څخه وژغورئ خو ډير لنډه او ساده يادونه د يوې زيرمې له پاره کافی نه ده.

کله چې تاسې د کوم چا نظريه، مفکوره، څيړنه او سوابق په خپل متن کښې ښياست بايد چې د زيرمې څرګندونې په خپل متن کښې وړاندي کړئ. ددې څرګندونې په يادولو سره تاسې نه يوازي خپل ځان له ادبي غلا څخه ژغورئ او مناسبه اعتبار اصلي زيرمې ته ورکوئ بلکې ثابتوئ چې د خپل اړتياوړ معلوماتو د بشپړه کولو لپاره څومره پراخه څيړنه مو کړې ده.

## مننه!!

---

٢ د ايالتونو د اداري له پاره د ليکوالي خپرونې هيئت.(٢٠٠٩).  د ادبي غلا پيژندګلوی او ردول : د WPA وينا پر ډير ښه تمرينونو باندي.

نومووړي وينا  له دې ويب پاڼې څخه اخيستل شوې دئ:9/www.wpacouncil.org/node//:

Downloaded from: www.ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**